محمدنعمان دوست

۲۰۲۵/۱۲/۱۱

# د رحمان‌بابا د شاعرۍ مقبولیت

رحمان بابا د اخلاقیاتو مبلغ دی. هغه، خلک نیکیو، قناعت، همپالني، بشرپالني او ګنو نورو ښېګڼو ته رابولي. د شاعرۍ د مقبولیت یو راز یې دا دی چې خبرې یې هرچاته د هغه د فکر په اندازه قابل هضم دي. بابا چې کله د خپلې خبرې د تقویت لپاره مثال ور کوي، نو داسي مثال وي چې عام خلکو ته هم واضح او قابل درک وي.

وګورئ، لاندي بیت:


**"مار چې سوړې ته نږدې شي، نو ځان سم کا**
**ته د ګور غاړې ته لاړې نشوې سم"**

که څه هم مرګ په عمر نه دی؛ ځکه ماشومان هم مري، نوي زلمیان هم مري، ځوانان هم مري او بوډاګان هم. خو بوډاتوب د ژوند داسي پړاو دی چې ورپسي پرته له مرینې بل پړاو نسته.

رحمان بابا ظالم، کبرجن، بې رحمه، بې انصافه او په نورو نارواو سر بوډا، له مار سره تشبیه کړی(له ماره خلک کرکه کوي، مضر دی) او قبر یې د مار له سوړې سره؛ ځکه قبر هم تنګ او تیاره وي.

نو بابا د یادو اوصافو لرونکیو بوډاګانو ته وایي چې وګورئ، حتا مار چې ټوله لار کوږ وږ روان وي؛ خو بیا هم چې خپل سوړې/ غار، ته نږدې سي نو ځان سیده او سم کړي؛ خو ته چې د خپل ګور تر غاړې ولاړ یې او نور ور ښکته کیږې، بیا هم نه سمېږې، یعني له بدیو لاس نه اخلې.

خدای ج دې موږ ټول، د عمر په هر پړاو کې چې یوو، له ناوړه اعمالو وساتي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ